مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

دریېم کال، پنځم او شپږم شمېرې، پسرلی ۱۳۹۲ هـ.ش

# په اسلام کې د ښځې مقام

# Women Rights in Islam

DOI: 10.64104/v3.Issue5-6.n6.2014

ISSN: 3078-9583 (Online) ISSN: 3078-9575 (Print)

د ۸۵ څخه تر ۱۰۸ پورې پاڼې: ۲۴ د خپریدو نیټه: ۱۳۹۲/۰۳/۱۵

ډاکتر رفیع الله عطاء[1]


## لنډیز

د اسلام څخه مخکې، ښځې په نړۍ کې د ژوند په هره برخه کې محرومې او محکومې وې او په هر ځای کې بدکارې او بې ځایه ګڼل کېدې. حتی د حیواناتو څخه ټیټې ګڼل کېدې او په ټولنه کې یې هېڅ ځای نه و.

د اسلام د راختیا سره، جهالت د رڼا په ځای بدل شو او خوشالي په ټوله نړۍ خپره شوه. اسلام د ښځو پر وړاندې هر ظلم ختم کړ او هغې ته یې په ټولنه کې د عزت ځای ورکړ. پر ځای د دې چې ژوندۍ خاورو ته وسپارل شي، هغې ته لوړه مقام ورکړل شو (د مور په توګه) چې لاندې یې جنت موجود و، او د هغې روزنه (لکه د لور او خور په توګه) د جنت ترلاسه کولو لامل ګرځېده. برسېره پر دې، د هغې حقوق د پلار د حقوقو څخه لوړ کړل شول او په ښه توګه ورسره چلند کېده ترڅو لوړې مقام ته ورسېږي. په اسلام کې ښځې ته د ژوند په هره برخه کې مساوي حقوق ورکول کېږي او هیڅ حق یې نه دی اخیستل شوی. د اسلام په اړه د ځینو خلکو نیوکې د ښځو پر حقوقو بې ځایه دي. ځوک نشي کولی د اسلام لخوا ورکړل شوي حقوقو شاته حکمت درک کړي پرته له دې چې د ټول اسلامي سیستم په رڼا کې یې وګوري، ځکه اسلام بشپړ سیستم دی.

د نورو تمدنونو برعکس، اسلام ښځې د یو وسیلې په توګه نه ګڼي بلکې د عزتمند انسان په توګه ګڼي. لکه د نارینه وو په څېر، په اسلام کې ښځو ته هم اجازه ده چې کار وکړي او په ټولنه کې برخه واخلي او اسلامي اصول تعقیب کړي او پلي کړي. اسلام د هغوی طبیعي اړتیاوې هم په پام کې نیولې او د هغې مطابق قوانین وضع کړي دي. له همدې امله، ښځې چې په نورو دینونو او ټولنو کې د ظلم قرباني او بې ځایه ګڼل کېدې، په اسلام کې هغې ته خوشالي، لوړې مقامونه او مساوي حقوق ورکړل شول.


**کلیدي کلیمې: ښځې، مقام، جاهلیت، تقوی، حقوق**

[1]. استاد پوهنځی شرعیات و معاون اداری پوهنتون سلام، +93772208010، Rafi.ata@gmail.com

**پیلیزه**

سره له دې چې پرته له ښځې انسانيت نه بشپړ کيږي بيا هم بې له شکه د انساني تاريخ په اوږدو کې ښځه د ډول، ډول ناورينونو او راز، راز بد مرغيو، تېريو او کړاوونو سره مخ شويده.

سره له دې چې ښځه د انسان د روزنې لمړنۍ زانګو او مهربانه غيږ ئې د ماشوم لپاره د سکون او آرام ځړ ځای دی، خو بيا هم د تاريخ د بيلابيلو پړاونو او د ځمکې په ګوټ، ګوټ کې د ژوند په هر ډګر کې زوريدلې ، او کړيدلې ده.

له دې سره چې د ژوند د ترخو شيبو پر مهال د سربښندنې په ډګر کې له سرې څخه پاتې نه ده خو د پيرزوينو او لورينو پر مهال ولې هيره شي؟ که څه هم د وير او ماتم څپې لمړی د همدې پر مخ لړيږي خو د خوشحاليو او سوکاليو پر مهال څنګه پاتې وي؟

ولې د پيټي او بار پر مهال د ټولنې سره اوږه په اوږه خو د خوښيو په شيبو کې محرومه او بار وګڼل شي؟

هو! ښځې دا ټول زيارونه او زحمتونه ګاللي دي خو بيا هم په بيلابيلو مدنيتونو او پړاوونو کې ئې د جاهليت د تيارو تېريو څخه د آرام ساه ونه کښله او نه د هوسا ژوند څښتنه شوه.

خو د ښځې د نيکمرغۍ سهار هغه مهال روڼ شو کله چې د حجاز په افق د اسلام لمر څرک وواهه او د خپلو مهربانه وړانګو په خپرولو سره ئې د جاهليت تورې تيارې روښانه کړې.

محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم مبعوث شو، دنيا بدله شوه او د کفر او وحشت ټغر د تل لپاره ټول شو.

هر چاته خپل حق ورسيد، ښځه مور شوه، ښځه خور شوه، ښځه لور شوه، ښځه د ژوند ملګرې او خوږه ميرمن شوه او په هيڅ ډګر کې محرومه نه شوه.

دا چې ددې د ښو پر ډاګه کولو لپاره چې کوم حقوق ورته ورکړل شول؟ او له کوم تيرې څخه وژغورل شوه؟ دا ليکنه وړاندې کوو، ترڅو دا ځواب د قرآن کريم د لارښوونو په رڼا کې ولټوو او وګورو چې په جاهليت او په ځانګړې توګه عربي جاهليت کې د ښځې حالت څنګه ؤ؟ او بيا قرآن کريم د ښځې اړوند اسلامي تصور څرنګه وړاندې کوي او له هغه جاهليت وروسته ورته اسلام څه ورکړل؟ نو بيا به ښه جوته شي چې ښځه د اسلام په راتګ سره څومره د پت او کرامت اوچتې کچې ته ورسيده او له څومره بدبختيو او ناخواليو وژغورل شوه؟

او همدغه راز به د رسول الله صلی الله عليه وسلم په سپيڅلو سنتو کې د ښځې د مکانت او رسالت په اړه ځغلنده نظر واچوو ترڅو اسلامي تصور په دې هکله ښه روښانه شي.

ددې لپاره چې په آسانۍ سره هر څوک وکولای شي او وخت زيات و نه نيسي په لنډه توګه مو مطالب بيان کړيدي او له دې سره چې په دې لنډه ليکنه کې ممکن نه ده چې ټول هغه څه ځای شي چې اسلام د ښځې د حقوقو په اړه بيان کړي او مقرر کړيدي، خو هڅه شوې ترڅو په بنسټيزه توګه باندې هغه لوريو ته پکې کتنه وشي چې د ښځې د انسانيت او کرامت ساتنه پکې شوې او دا پکې ثابته شي چې له هر مدنيت او دين څخه په اسلام کې د ښځې حقوق په پوره توګه خوندي او ورکړل شويدي.

چې په عامه توګه د بحث عنوان او ليک دود په لاندې توګه دی:

لمړی: په قرآن کريم کې د ښځې په اړه اسلامي او جاهلي انځور.

1) په قرآن کريم کې د ښځې په اړه جاهلي انځور.

2) په قرآن کريم کې د ښځې په اړه اسلامي انځور.

دويم: ښځه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حديثو په رڼا کې

1) د رسول الله صلی الله عليه وسلم او راشده خلافت په زمانه کې د ښځينه ؤ د کار مجالونه.

2) د ښځې سره د تعامل په هکله د رسول الله صلی الله عليه وسلم سپارښتنې.

دريم: په اسلام کې د ښځينه ؤ په اړه ځينې نيوکو او شبهاتو ته کتنه.

1) په سياسی او ټولنيزه برخه کې.

2) په ديني برخه کې.

3) ښځې په ځينی برخو کې پر سړيو امتياز لري.

**لمړې په قرآن کريم کې د ښځې په اړه اسلامي او جاهلي انځور**

**1 :- په قرآن کريم کې د ښځی په اړه جاهلي انځور**

قرآن کريم په خپل لمړي دور (مکی دور) کې هغه جاهليت غندلی او رد کړی ؤ چې د نارينه او ښځينه ترمينځ په توپير ولاړ ؤ.

د اسلام مخکې که څه هم د عربو په ځني شريفو کورنيو کې (لکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم او راشده خلفاو په کورنيو کې) د ښځې انسانيت، مکانت او منزلت خوندي ؤ، خو په عامه توگه ورسره د يو خوار او پريوتی موجود چلند کيده تردې چې په ځينو کورنيو کې د ماشوم زيږيدل عار او پيغور وه.

**ماشومه ژوندۍ په گور کيدل:**

کله به داسې هم کيدل چې د زيږيدلو سره به ئې سمدلاسه ژوندۍ ښخوله او کله به ئې ورسره د څيرونکي ځناور څخه هم بده معامله کوله، چې شپږ کلنۍ ته به ورسيده نو پلار به ئی مور ته کړه چې لور تياره کړي ترڅو خپلوانو کره ئې ورولي له کوره به ئې په همدې پلمه وکنبله، ظالم او وحشی پلار به ئې ورته کنده له مخکې کنبلې وه او ورکې به ئې ور خطا کړه.[2] (**إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ**)

ستر الله جل جلا له په قرآن کريم کې داسې بيانوي.

(**وَإِذَا الْمَوْءُودَةُ سُئِلَتْ (8) بِأَيِّ ذَنْبٍ قُتِلَتْ**)[3]

يعنی: د قيامت هغه ورځ ده چې: د ژوندۍ ښځې کړې شوې جلۍ څخه به پوښتنه وشي چې په کومه گناه وژلې شويده.

وگورۍ قرآن کريم دغه بد عمل په څومره سخت انداز کې غندلي دی – دا د وحي د نزول همغه لمړی پړاو دی چې د قيامت د سختې او له وير ډکې ورځې حالت پکې انځور کيږي، چې يوه خبره به پکې دا هم وي چې د مظلومې ژوندۍ په گور شوې ماشومې څخه به پکې پوښتنه وشي په کومه گناه وژلې شوی وی؟

دا خو څرگنده ده چې له ښخونکي څخه خو به هرومرو پوښتنه کيږي خود ښخونکي لپاره د نور عذاب سربيره دا هم يو راز تعذيب او راسوائي ده چې د هغه مظلومې جلۍ څخه هم پوښتنه وشي او ډاډ ورکړل شي چې نن به د دغه ناوړه کار غچ

---

[2] - وگوره فی ظلال القرآن او روح المعانی للألوسی ۲۵۳/۱۵ دار الکتب العلميه، بيروت.

[3] - د التکوير سورت د آيت شميره ۸-۹.

اخیستل کیږي.

په دې توګه قرآن کریم دا یوه تیره کیسه بولي چې په اسلام سره ئې لمنه ټوله شوې او په قیامت کې به ئې پوښتنه کیږي.

**په جاهلیت کې به چې جلۍ وزیږیدله نو د پلار مخ به ئې له ډیره قهره تور او د خلکو له شرمه به پټیده:**

قرآن کریم په دی هکله داسې حکایت کوي:

**(وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُمْ بِالْأُنْثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ (58) يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِنْ سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ)**[4]

ژباړه: او کله چې یو له دوی ته د لور زیری ورکړل شي نو (له قهر ئی) مخ تور واوړي او له ویر څخه ډک وي، له خلکو څخه د نا خوښه زیري (له شرمه) پټیږی (او سوچ کوي چې) خواري وزغمي (او لور ژوندي پریږدي) که ئې ژوندۍ په خاورو کې ښخه کړي، یاد ساتئ چې د دوي پریکړه ډیره بده ده.

له اسلام مخکې جاهلیت چې په لور باندې به پکې ځینو ته دومره عیب ؤ چې د ژوندۍ پرینښودلو زغم او یا ئې ژوندۍ ښخول ورته برابرو له همدې امله به ئې په دې دوه لارو کې سوچ کاوه او د لور د عزتمن ژوند دریمه لاره ئې هیڅ فکر ته نه راتله.

**2:- قرآن کریم او د ښځې په هکله اسلامي تصور:**

**الف – قرآن کریم د ښځې او سړي توپیر له مینځه وړي او یو شان خطاب ورته کوي:**

قرآن کریم داسې فرمائي:

**(مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ)**[5]

ژباړه: هر هغه چې نیک عمل وکړي که سړی وي او که ښځه خو چې مؤمن وی، مونږ به ورته خوښمن ژوند ورکړو (په دنیا کې) او (په اخرت کې به هم) هرمرو (نیکی کوونکو ته) د دوي د نیکو کړنو بدله ورکړو.

بل ځای فرمائي:

**(مَنْ عَمِلَ سَيِّئَةً فَلَا يُجْزَى إِلَّا مِثْلَهَا وَمَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَأُولَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ يُرْزَقُونَ فِيهَا بِغَيْرِ حِسَابٍ)**[6]

ژباړه: څوک چې بدي کوي نو هغه ته به د همغې (بدۍ) په څیر سزا ورکولی شي او هغه چې نیکي کوي که هغه سړی وی او که ښځه خو چې مومن وي هغوي به جنت ته ننوزي هلته به ورته بې شمیره روزي ورکول کیږي.

همدغه راز ورته مفهوم د النساء سورت په ۲۴ آیت کې هم ذکر شویدي، د آل عمران سورت وروستی رکوع کې بیا نارینه او ښځینه ځیني له ځینی نورو له جنس څخه شمیري او یو د بل برخه ګڼي او جاهلي توپیر له یوې مخی له مینځه وړي.

**(فَاسْتَجَابَ لَهُمْ رَبُّهُمْ أَنِّي لَا أُضِيعُ عَمَلَ عَامِلٍ مِنْكُمْ مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى بَعْضُكُمْ مِنْ بَعْضٍ)**[7]

[4] - د النحل سورت د آیت شمیره ۵۸-۵۹.

[5] - د النحل سورت ۹۷ ایت.

[6] ، د غافر سورت ۴۰ آیت.

[7] - د آل عمران سورت ۱۹۵ آیت.

ژباړه: نو (د دوي دعا) د دوي لپاره د دوي رب قبوله کړه (په دې توګه چې) یقیناً زه ستاسی څخه د کوم عمل کوونکي عمل نه بابیزه کوم که نارینه وي او که ښځینه، ځني له ستاسې له ځنې نورو څخه دی (ټول یو د بل له جنس څخه یاست).

**ب - په قرآن کریم کې د جنت او مغفرت د وعدی خطاب د نارینه او ښځینه ؤ لپاره یو شان او برابر دی:**

په دې هکله الله متعال فرمائي:

**(إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ وَالْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ وَالْقَانِتِينَ وَالْقَانِتَاتِ وَالصَّادِقِينَ وَالصَّادِقَاتِ وَالصَّابِرِينَ وَالصَّابِرَاتِ وَالْخَاشِعِينَ وَالْخَاشِعَاتِ وَالْمُتَصَدِّقِينَ وَالْمُتَصَدِّقَاتِ وَالصَّائِمِينَ وَالصَّائِمَاتِ وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا)**[8]

ژباړه: پرته له شک مسلمانان او مسلمانانې، مومنان او مؤمنانې، منونکي سړي او ښځې، ریښتني سړي او ښځې، صبرناک سړي او ښځي، عاجزی کوونکې سړي او عاجزی کوونکې ښځې، خیرات کوونکې سړي او ښځي، روژه تیان او روژه تیانې او د خپلو شرم ځایونو ساتونکي سړي او ښځی او د الله متعال ډیر یادونکې سړي او ښځې، د دوی ټولو لپاره الله پاک ښښنه او بدله تیاره کړیده (چې هغه د جنت تلپاتې نعمتونه دی)

ممکن وه چې د عربی ژبې د قواعدو سره سم جمع مذکر استعمال شي او نارینه او ښځینه دواړو ته شامل وي خو د ډیر ارزښت له امله ئې په جلا توګه د ښځینه صیغې هم استعمال کړیدي ترڅو وښائي چې د ښځینه او نارینه دواړو لپاره د هغوي د طبیعت برابر اجر او ثواب په برابره توګه ټاکل شویدی.

**ج – ښځې د سړیو لپاره او سړي د ښځو لپاره د لباس او متاع حیثیت لري:**

قرآن کریم کې په یو ډیر غوره اسلوب سره دا خبره بیان شوې چې ښځې د سړیو او سړي د ښځو لپاره د لباس حیثیت لري لکه چې فرمائي:

**(هُنَّ لِبَاسٌ لَكُمْ وَأَنْتُمْ لِبَاسٌ لَهُنَّ)**[9]

ژباړه: ښځې ستاسی لپاره لباس او تاسې د ښځو لپاره لباس یاست.

انسان په لباس سره له نورو ځارویو څخه توپیر لري، لباس د انسان لپاره ښکلا او ضرورت دی، په لباس سره د انسان حیاء ده، د لباس څخه انسان په پرده کې نه وي او له بل هر شي څخه انسان ته لباس ورنږدې وي نو ځکه د ښځې پر ځای بیلګه کې راوړل شویدی.

خو لباس د خپل ټول ارزښت سره سره بیا هم وسیله ده، نو قرآني اسلوب یوازې دانه بیانوي چې ښځه د سړي لپاره د لباس په څیر ده ترڅو د ښځې حیثیت پکې یوازې د یوې وسیلې په توګه بیان شی بلکې دائی هم بیان کړل چې د سړي حیثیت هم د ښځې لپاره په همدې توګه دی او دواړه سره په دې کې برابر دي.

**د – د ښځې او سړي ترمینځ اړیکه:**

تکاملي، انساني او د محبت پر بنسټ ده:

د قرآني اسلوب څخه په ډاګه کیږي چې د ښځې او سړي اړیکه انساني او تکاملي ده، نه دا چې په توپیر ولاړه.

---

[8] - د الأحزاب سورت ۳۵ آیت.

[9] - د القره سورت ۱۸۷ آیت.

سړی او ښځه یو پر بل باندې بشپړ کیږي او انساني مدنیت مینځ ته راځی لکه څرنګه چې پرته له سړي انساني ټولنه نه شي را منځ ته کیدای همدغه راز بې له ښځې هم ممکن نه ده چې انساني ټولنه رامینځ ته شي.

الله متعال فرمایلي دي:

(وَأَنَّهُ خَلَقَ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنْثَى)[10]

ژباړه: او دا چې په تحقیق سره نر او ښځې جوړه ئې پیدا کړیده.

د (مذکر) مقابل لوری (أنثی) ده چې د دوي په التقاء سره بشپړ او د جوړې شکل نیسي.

الله متعال فرمایلي دی:

(يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنْهَا زَوْجَهَا وَبَثَّ مِنْهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَاءً)[11]

ژباړه: ای خلکو! د خپل هغه رب څخه وویریږئ چې تاسې ئې له یوه نفس (آدم علیه السلام) پیدا کړي یاست، او له هغه څخه یې د هغه جوړه (بی بی حوا) پیدا کړه او بیا ئې له دې دواړه څخه (په ځمکه کې) ډیر سړي او ښځې خپاره کړل.

بل ځای کې فرمائي:

(وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً)[12]

ژباړه: او د الله متعال له (سترو) نښو څخه دا هم ده چې ستاسی لپاره ئې ستاسې له خپل جنس څخه جوړی پیدا کړی چې تاسی ورسره هوسا شئ او ستاسې تر منځ ئې دوستي او مهرباني پیدا کړه.

جاهلیت خو د ښځي زیږیدل هم شرم شمیرل، خو اسلام هغه د الله پاک د پیرزوینو په لړ کې د هغه د سترو نښو څخه ګڼلې ده.

**هـ – د غوره والی معیار تقوی ده:**

په اسلام کې د غوره والي کچه یوازي تقوی ده الله پاک فرمایلي دی:

(إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ)[13]

ژباړه: یقیناً د الله پاک په نزد غوره له ستاسې څخه هغه دی چې ډیره تقوی لري.

نوموړی آیت په نورو ټولو هغه معیارونو رد کوي چې له تقوی څخه پرته په بل څه ولاړ وي که هغه د قوم پر بنسټ او یا د ژبې او ځمکني موقعیت، د ښځینه او نارینه جنس پر بنسټ او یا د نورو بنسټونو له امله وي.

**و – د میراث حق:**

ښځه چې د نورو له نظره ورڅخه د یوې وسیلې په توګه ګټه اخستل کیږي او جاهلیت ورته د ملکیت حق نه ورکوي او تر اوسه په ځینې قوانینو کې ورته د میړه له اجازي پرته په خپل مال کې هم تصرف محدود دی، اسلام ورته د میراث حق ورکړیدي او په قرآن کریم کې په صراحت سره بیان شویدی.

الله متعال فرمایلي دی:

---

[10] - النجم سورت.

[11] - سوره النساء آیه ۱.

[12] - د الروم سورت ۲۱ آیت.

[13] - الحجرات سورت.

﴿يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ﴾[14]

ژباړه: ستاسو د اولاد په هکله درته الله پاک حکم کوي چې د يو نارينه برخه د دوه ښځينه ؤ برابر ده.

ځنې هغه وګړي چې د اسلام له بشپړ نظام څخه پوره معلومات نه لري او د اسلام په هکله يې معلومات نيمګړي دي، پردې خبره نيوکه کوي چې ولي د نارينه برخه په ميراث کې له ښځې څخه لويه ده، خو که د اسلام بشپړ نظام ورته څرګند شي، نو هيڅکله به دا خبره ونکړي بلکې خپله به پردې اعتراف وکړي چې همدغه ويش عين حق او عدل دی.

وګورئ چې د ښځې د ژوند ټول اړين لګښتونه د سړي پر سر دی له دی سربيره د پلار، مور، کوچنيو بچيانو (ځامنو او لوريانو) او د کور ټول مالي مسؤليت د سړي پر غاړه دی، نو که چيرته دی مسؤليتونو ته په کتنه سره بيا هم د ښځې او سړی برخه سره يو شی وي دا به د سړي په هکله تيری نه وي؟

بيا که چيرته دی ته وګورو چې په ګڼ شمير تاوانونو او بار اخستلو کې ښځينه معاف دي لکه په خطا قتل کې چې ديت ورکول د نارينه ؤ پر غاړه دی او ښځينه پکې هيڅ مسؤليت نه لري، نو که چيرته د موّرث (متوفی) په پاتی مال کې که د نارينه برخه يو څه زياته  وی نو دا به انصاف نه وی؟ په داسی حال کې چې په ژوند کې د (متوفی) سره په مالي مسؤليتونو کې له ښځينه څخه ستره ونډه اخلی.

بنسټيزه خبره داده چې ځنې وګړي پرته له دې چې اسلام په پشپړه توګه د يو نظام په توګه و څيړي او ځان ورباندی پوه کړي په ځنې جزئې احکامو او مقرراتو نيوکه کوي چې دا کار له انصاف سره هيڅ اړخ نه لګوي.

اوس راځی وګورو چې ايا خلک همدغه حق چې اسلام په ميراث کې ټاکلی دی ښځو ته ورکوي؟ ايا له دې ويش څخه چې الله پاک کړيدی بل کوم غوره ويش شته؟ ايا هغه نظام چې خلک پکې خپل مال تر مرګ وروسته سپيو، پيشوګانو او......... ته وقف کوي او انسانيت ورڅخه محرومولي د دوي په نزد غوره دی؟ او که هغه چې ټول مال پکې يو تن ته ورکړل شی او يا د دې لپاره هيڅ قانون او احکام نه وي؟

**ز- د کورني نظام اړوند د ښځينه ؤ حقوق:**

اسلام ښځينه ؤ ته په کورني نظام کې پوره پاملرنه کړيده او د جاهليت هغه خنډونه چې د ښځې کرامت او منزلت پکې تر پښو لاندی ؤ ټول له مينځه وړيدي، د کورني نظام اړوند (د نکاح، مهر، طلاق، خلعې، ايلاء، ظهار، رجعت او حضانت) احکام په قرآن کريم کې په تفصيل سره بيان شويدي او د قرآن کريم د البقره، النساء، النور، الأحزاب، الطلاق، المجاله او ځنې نورو مبارکو سورتونو په بيلا بيلو برخو کې د ښځې اړوند احکام په ځانګړې توګه کوم چې د کورني نظام سره اړيکه لري په وضاحت او صراحت سره ذکر دي.

چې په دې ټولو کې د ښځې او سړي ترمينځ اړيکه د يوه بې ساري تعادل پر بنسټ ولاړه ده.

که کوم ځای کې سړي ته د مسؤليت په توګه واک ورکړل شوی دی نو بل لورې ته ورباندې داسې بندونه لګيدلي دي چې د هغې په کتنې سره د ښځې بشپړ درناوی ساتل شويدي.

د قرآن کريم په ګڼ شمير ځايونو کې کله چې سړي ته د يو لړ بندونو او شرطونو سره واک ورکول کيږي نو د هغه شرطونو

---

[14] - سوره النساء آيه ۱۱.

د نه پلي کولو په صورت کې ورته د دروند وعید گوت څنډنه شویده، د بیلگې په توگه په لاندې آیت کې په ښه توگه څرگندیږي.

**(وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ سَرِّحُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ وَلَا تُمْسِكُوهُنَّ ضِرَارًا لِتَعْتَدُوا وَمَنْ يَفْعَلْ ذَلِكَ فَقَدْ ظَلَمَ نَفْسَهُ وَلَا تَتَّخِذُوا آيَاتِ اللَّهِ هُزُوًا)**[15]

ژباړه: او کله مو چې ښځو ته طلاق ورکړ او هغوي د خپل عدت نیتې ته نږدی شي نو یائې په ښه توگه وساتئ او یا ئې په ښه توگه رخصت کړئ او د ضرر رسولو په خاطر ئې مه بندوئ چې تیری وکړی. او که چا دا کار وکړ (تیری ئې وکړ) نو له خپل ځان سره ئې ظلم وکړ او د الله پاک آیتونه په ټوکو مه اخلئ.

په بل ځای کې فرمائې:

**(تِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ فَلَا تَعْتَدُوهَا وَمَنْ يَتَعَدَّ حُدُودَ اللَّهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ)**[16]

ژباړه: دا (مخکې ذکر شوي د ښځو حقونه) د الله پاک ټاکل شوي حدونه دي نو ورڅخه مه تیریږئ او هغه څوک چې ورڅخه تیر شو نو همدوي تیري کوونکي دي.

بل ځای فرمایي:

**(وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ يُبَيِّنُهَا لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ)**[17]

ژباړه: او دا (تیر بیان شوی د ښځو حقوق) د الله پاک ټاکل شوی حدونه دي هغه خلکو ته ئې بیانوي چې پوهیږي.

بل ځای فرمائي.

**(ذَلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَلِكُمْ أَزْكَى لَكُمْ وَأَطْهَرُ)**

ژباړه: په دې احکامو ستاسو له جملې هغه چاته پند ورکول کیږي چې په الله متعال او د آخرت په ورځ باندې ایمان لري، دا (د ښځو حقوق پلي کول) ستاسو لپاره غوره او پاکیزه کار دی.

همدغه راز گڼ شمیر آیاتونو کې د ښځو د حقوقو د نه عملي کولو په صورت کې سخت وعید (د عذاب گوبس) ورکړل شویدی چې د بېلگې په توگه مو په پورته ذکر شویو بسنه وکړه.

**ښځه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حدیثو په هنداره کې**

**1:- د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د ښځو د کار مجالونه:**

ښځینه ؤ د رسول الله صلی الله علیه وسلم او راشده خلفاؤ په زمانه کې په لاندې برخو کې چارې سرته رسولې:

**الف – ماشومانو ته شیدې ورکول او روزنه ئې:** د اسلام څخه دمخه هم عربو کې دود ؤ چې خپل ماشومان به ئې د غوره روزنې لپاره رضاعي میندو ته ورکول لکه څرنگه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بی بی حلیمي په رضاعت سره اخیستی ؤ چې:

بې بې حلیمه یې کیسه داسی بیانوي:

---

[15] - د البقره سورت ۲۳۱ آیت.

[16] - د البقره سورت ۲۲۹ آیت.

[17] - د البقره سورت آیت ۲۳۰.

(أَصَابَتْنَا سَنَةٌ شَهْبَاءَ ، فَلَمْ تُبْقِ لَنَا شَيْئًا ، فَخَرَجْنَا فِي نِسْوَةٍ مِنْ بَنِي سَعْدِ بْنِ بَكْرٍ إِلَى مَكَّةَ نَلْتَمِسُ الرُّضَعَاءَ فَلَمَّا قَدِمْنَا مَكَّةَ لَمْ تَبْقَ مِنَّا امْرَأَةٌ إِلا عُرِضَ عَلَيْهَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَأْبَاهُ ، وَتَكْرَهُهُ ، وَذَلِكَ أَنَّهُ كَانَ لا أَبَ لَهُ ، وَكَانَتِ الظُّورَاتُ إِنَّمَا يَرْجُونَ الْخَيْرَ مِنَ الآبَاءِ ، وَكَانَتِ الْمَرْأَةُ تَقُولُ : مَا أَصْنَعُ بِهَذَا ؟ ، مَا عَسَى أَنْ تَصْنَعَ بِي أُمُّهُ فَيَكْرَهْنَهُ ، قَالَتْ : فَعُرِضَ عَلَيَّ فَأَبَيْتُهُ فَلَمْ تَبْقَ امْرَأَةٌ مِنْ قَوْمِي إِلا وَجَدَتْ رَضِيعًا ، وَحَضَرَ انْصِرَافُهُنَّ إِلَى بِلادِهِنَّ ، فَخَشِيتُ أَنْ أَرْجِعَ بِغَيْرِ رَضِيعٍ ، فَقُلْتُ لِزَوْجِي : لَوْ أَخَذْتُ ذَاكَ الْغُلامَ الْيَتِيمَ كَانَ أَمْثَلَ مِنْ أَنْ أَرْجِعَ بِغَيْرِ رَضِيعٍ ، فَجِئْتُ إِلَى أُمِّهِ فَأَخَذْتُهُ وَجِئْتُ بِهِ إِلَى مَنْزِلِي )[18]

ژباړه: بي بي حليمه وائي: يو کال سخته وچکالى وه چې مونږ ته ئې هيڅ هم پاتي نکړل، نو د بنو سعد قبيلې د ښځو په يوه ټولگه کې د تيى رودونکو ماشومانو د لاسته راوړلو په هوډ مکې مکرمې ته ولاړو، کله چې مکې مکرمې ته ورغلو نو د پيغمبر صلى الله عليه وسلم له ا خستلو څخه ټولو انکار وکړ او دا ځکه چې هغه يتيم ؤ په داسې حال کې چې رضاعي ميندو له پلرونو څخه د خير هيله لرله نو ښځو به ويل چې پردې يتيم هلک به څه وکړی؟ مور ئې زما سره هم څه نه شی کولای، ما هم ونه منل چې له ځان سره يې واخلم، زما له قوم څخه يوه ښځه هم پاتى نه شوه چې ماشوم ورته ونه رسيد کله چې وطن ته د گرځيدو وخت راورسيد نو زه وبيريدم چې پرته له ماشوم وطن ته وگرځم، (يعنى بي ماشومه وطن ته لاړه نه شم) نو څښتن ته مې وويل چې: که همدا يتيم هلک واخلم له دې څه به غوره وي چې پرته له ماشوم کورته ستنه شم نو بيائې مور (آمنى بى بى) ته راغلم او (پيغمبر صلى الله عليه وسلم مې چې هغه وخت ماشوم ؤ) کور ته راوړل.....

له نوموړی کيسی څخه په ډاگه کيږي چې د عربو د ښځو يو مهم کار هم د ماشومانو روزنه وه په ځانگړی توگه کله چې ماشوم تي خوری او د مور پاملرنې ته اړتيا لري.

له دغه دود سره اسلام هم ټکر ونه کړ او ښه ئې مهذب کړ چې د رضاعت مسألې او احکام هم له دې سره اړيکه نيسی په قرآن کريم کې الله متعال فرمائې:

(فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَأْتَمِرُوا بَيْنَكُمْ بِمَعْرُوفٍ وَإِنْ تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَى)[19]

ژباړه: نو بيا که دوي (طلاق شوي ښځې) ستاسې ماشوم ته تی ورکوي (تاسی ته ماشوم پالی) نو مزدوري ورته ورکړئ او په خپل مينځ کې غوره مشوره وکړئ او که له يو بل سره مو سختې راواخيسته نو بله ښځه به د ماشوم پاملرنه وکړي.

**ب – د علم او فتوى په ډگر کې:**

د علم د خپراوي په ډگر کې د ښځينه ؤ رول د پيغمبر صلى الله عليه وسلم په زمانه کې ډير مهم ؤ، په ځانگړي توگه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د پاکو بيبيانو او بيا د هغوی تر مينځ أم المؤمنين عائشه رضى الله عنها په علميت او پوهه باندې خورا مشهوره وه ترڈې چې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم ئې له دوه زره حديثونو څخه هم زيات روايت کړيدی، او له هغه شپږو اصحابو څخه شمېرل کيږي چې تر ټولو زيات حديثونه ورڅخه نقل شويدي.[20]

همداراز ام سلمه رضى الله عنها هم په علم او پوهه ډيره مشهوره وه.

بيا خو د راشده خليفه گانو په زمانه کې د پيغمبر صلى الله عليه وسلم بيبيانې د علم او فتوى لپاره خورا مهم مرجع گڼل کيدې، په ځانگړي توگه د ښځينه ؤ اړوند احکامو کې خو به ورته مشرانو صحابه ؤ هم رجوع کوله.

[18] - المعجم الكبير للطبرانى ۴۵۲/۷.

[19] - د الطلاق سورت ٦ آيت.

[20] - شرح التبصرة للحافظ العراقي ص۲۰۹.

**ج – لاسی کارونه:**

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ښځو لاسي کارونه هم سرته رسول امام احمد بن حنبل رحمه الله په خپل مسند کې روایت کوي چې:

**(وَكَانَتِ امْرَأَةً صَنَاعَ الْيَدِ، قال: فَكَانَتْ تُنْفِقُ عَلَيْهِ وَعَلَى وَلَدِهِ مِنْ صَنْعَتِهَا)**[21]

ژباړه: د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ښځه رائطه رضی الله عنها یوه په لاسي کار پوهه ښځه وه د خپل کار له (گټې) څخه به ئې پر هغه او د هغه پر بچیو انفاق کاوه.

همدغه راز له أم المؤمنین عائشه رضی الله عنها څخه روایت چې:

**(قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " : أَسْرَعُكُنَّ لَحَاقًا بِي أَطْوَلُكُنَّ يَدًا ، قَالَتْ : فَكُنَّ يَتَطَاوَلْنَ أَيَّتُهُنَّ أَطْوَلُ يَدًا ، قَالَتْ : فَكَانَتْ أَطْوَلَنَا يَدًا زَيْنَبُ ، لِأَنَّهَا كَانَتْ تَعْمَلُ بِيَدِهَا وَتَصَدَّقُ. " )**[22]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو بیبیانو په اړه فرمایلي ؤ چې: زما سره په تاسې کې د اوږد لاس والا بي بي ژر یو ځای کیږي،- یعنی وروسته زما به لمړی په تاسې کې د اوږد لاس څښتنه زر له دنیا رحلت کوي- نو دوي (بیبیانو) به لاسونه سره غزول (کچ کول) چې کومه یوه د اوږد لاس څښتنه ده، عائشه رضی الله عنها فرمائي: پر مونږ کې د اوږده لاس څښتنه بي بي زینت رضی الله عنها وه، ځکه چې هغې به په لاس کار کاوه او خیرات به ئې ورکاوه.

د اوږده لاس څخه په ښکاره سره دا هم څرگندیده چې د لاس څخه د بدن غړی مراد دی نو بیبیانو هم په دې توگه گمان وکړ نو بیائې لاسونه وکتل همغه ؤ چې د بې بې سوده لاس اوږد ؤ، خو په کرم او سخا کې د بي بي زینب رضی الله عنها لاس اوږد ؤ نو بیا کله چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له رحلت وروسته تر ټولو بیبیانو مخکې بي بي زینب رضی الله عنها له دنیا رحلت وکړ نو څرگنده شوه چې د اوږد لاس څخه مراد کرم او سخا وه.[23]

ددی سربیره دا د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له معجزاتو څخه شمېرل کیږی ځکه چې څرنگه اخبار بالغیب ئې ورکړي و همغه شان پیښ شول، د بي بي زینب رضی الله عنها په سخا او کرم هم دلالت کوي  ځکه نوموړی حدیث شریف محدیثینو کرامو د بي بي زینت د مناقبو په باب کې ذکر کړي.

له بل لوري په دې باندې هم دلالت کوي چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په زمانه کې به ښځینه ؤ لاسي کارونه کول او دا لاسي کارونه  یوازی د کور او خپلو شخصي اړتیاؤ لپاره نه ؤ بلکې ددې برسیره د خرڅلاو او سوداگرۍ لپاره هم ؤ.

**د – دارو درمل او طبابت:**

امام مسلم په خپل صحیح کتاب کې په مستنده توگه روایت کوي چې:

**(كَانَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يَغْزُو بِأُمِّ سُلَيْمٍ ، وَنِسْوَةٍ مِنَ الأَنْصَارِ مَعَهُ إِذَا غَزَا ، فَيَسْقِينَ الْمَاءَ ، وَيُدَاوِينَ الْجَرْحَى)**[24]

---

21 - مسند احمد ۵۰۳/۳.

22 - صحیح مسلم باب فضائل زینب ۱۴۴/۷

23 - وگوره شرح صحیح مسلم للامام النووی ۲۰۷/۸ ص، احیاء التراث العربی، بیروت.

24- صحیح مسلم ۱۹٦/۵، بیروت.

ژباړه: کله به چې رسول الله صلی الله علیه وسلم غزا کوله نو ام سلیم او د انصارو له جملې څخه به څه ښځې ورسره وې چې (غازیانو) ته به ئې اوبه ورکولې او د ټپیانو درملنه به یې کوله.

همدغه راز ام عطیه رضی الله عنها روایت کوي چې:

**(غَزَوْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبْعَ غَزَوَاتٍ، أَخْلُفُهُمْ فِي رِحَالِهِمْ، فَأَصْنَعُ لَهُمُ الطَّعَامَ،وَأُدَاوِي الْجَرْحَى،وَأَقُومُ عَلَى الْمَرْضَى)**[25]

ژباړه: زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په اوه غزاګانو کې موجوده وم چې د دوي پر ځای به د سفر د سر او سامان سره پاتې کیدم، او د دوي لپاره به مې ډوډۍ تیاروله او د ټپیانو درملنه او د ناروغانو پالنه به مې کوله.

**هـ – کرکیله او کرهڼه:**

امام مسلم په سند سره د جابر رضی الله عنه څخه داسې روایت کوي:

**(طُلِّقَتْ خَالَتِي فَأَرَادَتْ أَنْ تَجُدَّ نَخْلَهَا فَزَجَرَهَا رَجُلٌ أَنْ تَخْرُجَ ، فَأَتَتْ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : بَلَى ، فَجُدِّي نَخْلَكِ ، فَإِنَّكِ عَسَى أَنْ تَصَدَّقِي ، أَوْ تَفْعَلِي مَعْرُوفًا. )**[26]

ژباړه: جابر رضی الله عنه وائي چې: ترورۍ (خاله) می طلاقه شوه نو د خرماو د له ونی به ئې خرما ټولوله نو یوه سړي له دی څخه منع کړه (ځکه چې هغه په عدت کې وه) بیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغله او ددې اجازت ئې ورڅخه وغوښتل نو پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې: هو! تاسې د خپلو خرماؤ له ونو څخه خرما راټولې کړې ښائې چې خیرات به ورکړې او یا به د خیر کوم کار سرته ورسوي.

هو دا ټولې ذکر شوې چارې به ښځو سرته رسولې خو د شریعت د احکامو په چوکاټ کې او پرته له دې چې د شرعي حدودو څخه تیرې وشي، او یا د ستر او پردې څخه ووځي،

او ویلای شو چې که څه هم د ښځې تر ټولو مهمه دنده د کور دنده او د ماشومانو روزنه ده خو د اړتیا په صورت کې او د شریعت په حدودو کې دا ذکر شوې او دې ته ورته چارې سرته رسولی شي.

له پورته حدیثونو او روایتونو څخه دا ثابتیږی چې اوس مهال ښځینه د کور له کارونو سربیره نورې چارې هم سرته رسولای شي چې د بیلګې په توګه مونږ په لاندې توګه څه مجالونه ذکر کوو.

1. علم او تعلیم
2. دعوت ( نیکۍ ته بلنه او له بدۍ څخه منع کول)
3. لاسي کارونه چې درانده نه وي لکه خیاطی، ګلدوزی او داسی نور.
4. د کرهنې هغه برخه چې درنده نه وي او بیدیا ته پکې ګوښې وتل نه وی.
5. روغتیا او درملنه.
6. د ماشومانو روزنتونونه.
7. سودا ګري.

---

[25] - صحیح مسلم ۱۹۳/۵، بیروت.

[26] - صحیح مسلم ۲۰۰/۴.

او داسې نور مجالونه چې ښځه کولای شي په نوموړو او ورته ډګرونو کې چارې سمبال کړي خو دا ټول کارونه باید د ښځنتن او پلار سره په تفاهم او د شریعت په حدودو کې وي.

البته د ضرورت په وخت له دې پرته نورې چارې هم سرته رسولی شي په داسې توګه چې سړی وجود ونه لري او یا سړي او اولیاء ضعیفان وي.

کله چې شعیب علیه السلام خورا سپین ږیری شو نو لورانو ئې میږې څرولې چې قرآن کریم ئې کیسه داسې بیانوي:

**(وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ)**[27]

ژباړه: کله چې موسی علیه السلام د مدین او بوته ورسید نو هلته ئې د خلکو یو ټولی ولید چې څاروي خړوبوي او له هغوی څخه ښکته اړخ ته ئې دوه ښځې ولیدې چې (پسونه) را ایساروي، (موسی علیه السلام) ورته وویل چې: ستاسی غوښتنه څه ده؟ هغوي وویل چې: مونږ (خپل څاروي) نه خړوبوو ترڅو چې شپانه (خپل څاروي) ستانه نه کړي، او حال دا چې زموږ پلار ډیر بوډا دی.

خو که وګورو د دې کیسې په وروستۍ برخه کې هغه اړتیا ته اشاره شوې چې د شعیب علیه السلام لورانې ئې د میږو پسې را ایستلې دي او هغه دا چې موسی علیه السلام ته ئې وویل: زمونږ پلار خورا بوډا سړی دی.

خو په عادي حالاتو کی سخت او شاقه کارونه د ښځو لپاره نه دی او یا داسې چارې سرته رسول چې په هغې سره د سړیو سره خلوت او اختلاط راشي. والله أعلم.

**2: د ښځینه سره د تعامل په هکله د رسول الله صلی الله علیه وسلم سپارښتنې:**

**الف – د ښځینه ؤ سره غوره تعامل کوئ:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

**(اسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا)**[28]

ددی حدیث حاصل معنی داده چې: د ښځو په هکله درته د نیکۍ سپارښتنه کوم نو زما سپارښتنه و منئ او عمل ورباندې وکړئ.

د پورته حدیث شریف په رڼا کې د ښځو سره تعامل په عفوه بناء دی او حتی د هغوي د کمیو او کږیو سره تعامل هم په صبر بنا دی.

**ب – غوره هغه دی چې له خپلې میرمنې سره غوره چلند ولري:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

**(خَيْرُكُمْ خَيْرُكُمْ لِأَهْلِهِ وَأَنَا خَيْرُكُمْ لِأَهْلِي)**[29]

ژباړه: په تاسې کې غوره هغه دی چې له خپلې میرمنی سره غوره چلند او اخلاق ولري او زه له تاسو ټولو څخه له میرمنو سره په تعامل کې غوره یم.

---

[27] - سوره القصص آیت شمیره۲۳.

[28] - متفق علیه.

[29] - ترمذی شریف کې روایت دی.

**ج – ښځینه د سړیو په څیر دي:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

**(إنما النسَاءِ شقَائق الْرِجَال )**[30]

ژباړه: یقیناً چې ښځینه د سړیو په څیر دي.

له یو پلار او مور څخه الله پاک پیدا کړیدي نو ځکه په عامه توګه د هغوي په څیر دي.

**د – جنت د میندو له قدمونو لاندې دی:**

یو سړی چې جاهمه نومیده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته ئې وویل: چې یا د الله رسوله! هوډ لرم چې عزا ته ولاړ شم نو ستا څخه لارښونه غواړم؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

**(هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ ؟ قَالَ نَعَمْ . قَالَ: ( فَالْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ رِجْلَيْهَا)**[31]

ژباړه: ایا مور دې شته (ژوندۍ ده) هغه وویل چې هو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل د هغې په چوپړ کې اوسه یقیناً چې جنت د هغې د پښو لاندې دی>

د حدیث شریف مفهوم دادی چې د مور په وړاندې تواضع غوره کړه او تل ئې په خدمت کې اوسه نو الله پاک به درته جنت درکړي.

**هـ – د میندو زورونه الله پاک حرامه کړیده:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

(إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوقَ الأُمَّهَاتِ)[32]

یعنی: بې له شکه چې الله متعال د میندو زورونه حرامه کړیده.

د میندو ذکر په ځانګړې توګه د ډیر اهمیت له مخې وشو او که نه نو د پلرونو زورونه هم ناروا او حرامه ده.

**و – د مور حق له پلار څخه زیات دی:**

په حدیث شریف کې راغلي دي چې:

**(جَاءَ رَجُلٌ إِلَىٰ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ:يَا رَسُولَ اللَّهِ! مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ قَالَ:«أُمُّكَ». قَالَ:ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ:«ثُمَّ أُمُّكَ». قَالَ:ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ:«ثُمَّ أُمُّكَ». قَالَ:ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ:«ثُمَّ أَبُوكَ»)**33

ژباړه: یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او وئې ویل ای د الله رسوله: څوک ډیر حقدار دی چې زه ورسره غوره او نیک ژوند وکړم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل چې: مور، هغه وویل چې بیا څوک حقدار دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې مور، هغه وویل چې بیا څوک حقدار دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: مور: هغه وویل چې بیا څوک حقدار دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې بیا پلار.

---

[30] - أبو داود، ترمذی، مسند احمد بن حنبل او نورو روایت کړیدی.

[31] - النسائي (شیخ البانی رحمه الله ورته حسن صحیح ویلی دی)

[32] - البخاری.

[33] - متفق علیه.

**ز – د سپرلئ پر مهال هم د ښځينه ؤ خيال ساتئ:**

د رسول الله صلى الله عليه وسلم يو خادم ؤ چې انجشه نوميده او ډير اوچته حدي خوان ؤ، کله به چې اوښانو د هغه خوږ ترنم واوريده نو بيا به ښه ځغاستل او د ترنم پر مهال به ئې سترړيا نه حس کوله، چې په دې سره به بيبيانو ته زحمت پيښيده نوله دې امله رسول الله صلى الله عليه وسلم انجشه ته وفرمايل:

**(يَا أَنْجَشَةُ رُوَيْدَكَ سَوْقًا بِالْقَوَارِيرِ)**[34]

ژباړه: اى انجشه –اوښان- په ورو روانوه او د ښيښو سره نرمي کوه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ددې لپاره چې بيبيانو ته زحمت ونه رسيږي انجشه ته په يو ډير ظريف انداز کې هدايت وركړ چې اوښان په ورو روانوه ترڅو بيبيانو ته زحمت ونه رسيږي.

**ح – چا چې د يوې لور په وير او سختی صبر وکړ هم الله پاک به جنت ورکړي:**

به حديث شريف کې راغلي دي چې:

**(لَا يَكُونُ لِأَحَدٍ ثَلَاثُ بَنَاتٍ ، أَوْ ثَلَاثُ أَخَوَاتٍ ، أَوْ ابْنَتَانِ ، أَوْ أُخْتَانِ ، فَيَتَّقِي اللَّهَ فِيهِنَّ ، وَيُحْسِنُ إِلَيْهِنَّ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ)**[35]

ژباړه: که د يو چا درى لورانې يا درې خويندې وي او يا دوه لورانې او يا دوه خويندې وي او د هغوي (د پالنې او حقوقو) په هکله د الله پاک (له عذاب) څخه وويريږي او احسان ورسره وکړي نو جنت ته به ننوزي.

امام مسلم په يو بل حديث شريف کې روايت کړيدى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:

**(مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ وَضَمَّ أَصَابِعَهُ )**[36]

ژباړه: څوک چې د دوه لورانو لګښت پر غاړه واخلي (روزنه ئې وکړي) تر هغه چې بلوغ ته ورسيږي نو زه او هغه به د قيامت په ورځ (يو ځاى) راشو او پيغمبر صلى الله عليه وسلم خپلى مبارکې ګوتې سره (د بيلګې په توګه) پيوسته کړې.

په يو بل حديث شريف کې چې امام ابن ابى شيبه پر خپل مصنف کې په دى مفهوم روايت کړيدى راغلي دي چې:

که چا درې لورانې وى او د هغوي په وير، خوشحالئ او خفګان باندې صبر وکړي نو جنت ته به ئې ور دننه کړي (يعنى دا لورانې به ئې جنت ته د ننوتلو سبب و ګرځي) نو يو سړي وويل: او که دوه لوراني وي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: که دوه وى هم (جنت ته به ئې ور دننه کړي) يو سړى وويل او که يوه وى: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: او که يوه وي هم (جنت ته به ئې وردننه کړي.)[37]

**ط – پيغمبر صلى الله عليه وسلم د حجة الوداع په مشهور خطبه کې د ښځينه ؤ په هکله د تقوى امر کړيدي:**

رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله خورا مهمه خطبه کې چې د حجة الوداع خطبه وه د عرفې په ورځ د ښځو په اړه فرمايلي دى چې:

**(فَاتَّقُوا اللَّهَ فِي النِّسَاءِ فَإِنَّكُمْ أَخَذْتُمُوهُنَّ بِأَمَانِ اللَّهِ وَاسْتَحْلَلْتُمْ فُرُوجَهُنَّ بِكَلِمَةِ اللَّهِ )**[38]

ژباړه: د ښځو په اړه له الله متعال څخه تقوى وکړئ يقيناً چې تاسې دوي د الله پاک په امان سره اخيستې او د الله پاک

---

[34] - متفق عليه.

[35] - الأدب المفرد للامام البخارى (حديث حسن).

[36] - صحيح مسلم.

[37] - دا مفهوم مصنف د ابن ابى شيبة کې ذکر شويدى.

[38] - امام مسلم روايت کړيدي.

په حکم سره مو روا کړيدي.

پيغمبر صلی الله عليه وسلم په عرفات باندې په حجة الوداع کې د ډيرو مهمو احکامو په اړه لارښودنې وکړې د بې گناه وژنې، د سود د خوراک او د حرام مال د خوړلو څخه د منع کولو په لړ کې ئې د ښځو د حقونو او ورسره د احسان او نیکۍ امر هم وکړ چې دا په اسلام کې ښځې د مقام او منزلت يو غوره دليل شميرلی شو.

**په اسلام کې د ښځينه ؤ په اړه د ځينی خلکو نيوکو او شبهاتو ته کتنه**

**1: په سياسي او ټولنيزه برخه کې:**

ولې ښځينه نه شی کولای چې د ټول امت واکمنه شي؟

ولې د کور مشري سړي ته ورکړل شويده؟

دا خبره صحيح ده چې په اسلام کې هغه ولايات چې هر اړخيزه دي سړي ته سپارل کيږي، يوازې دا نه چې ښځې ته نه ورکول کيږي بلکې هر سړي ته هم نه ورکول کيږي ځنې داسی سړيو ته چې له ځانگړو صفاتو څخه برخه من وی په دغه مهمه دنده گمارل کيږې.

او ددې لامل دادی چې په اسلام کې مشرۍ ته د مسؤليت په سترگه کتل کيږی نه دا چې د منصب او امتياز په سترگه.

رسول کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی:

**(إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُونَ عَلَى الْإِمَارَةِ، وَسَتَكُونُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ،)**[39]

ژباړه: يقينا چې تاسی خو د امارت حرص کوئ خو ژر ده چې د قيامت په ورځ باندې به پښيمانه شی.

يو ځل ابو ذر رضی الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د امارت غوښتنه وکړه نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل:

**(يا ابا ذر إنّك ضعيف وإنّها أمانةٌ وإنّها يومَ القيامة خَزْيٌ وندامة إلاّ مَن أخذها بحقّها وأدّى الذي عليه)**

يا ابو ذره! ته بې وزله ئې او دا يو امانت دی او د قيامت په ورځ رسوائې او پښيمانی ده مگر هغه چې په حقه سره بې واخلی او حق يې ادا کړي.

هر دين او هر قوم او ملت کې د مشرۍ لپاره ځانگړې شرطونه وي، همدغه راز په اسلام کې هم د مشرۍ لپاره ځانگړې شرطونه دي، ترڅو چې هر سړي هم نه شي کولای امير المؤمنين، رئيس دولت، خليفه او د ټول امت مشر شي، ځکه هر سړی دغه دروند بار نه شي اوچتوالی او نه هر سړی ددغه مسؤليت حق پر ځای کولای شي.

د ښځې ځانگړې حالات هغې ته اجازه نه ورکوي چې د ټول امت بار پر خپله غاړه واخلي، د هغې فطري او خلقتی جوړښت هغه له دې څخه معافوي او اسلام هم ښځه د هغې د ځانگړو شرطونو په کتنه سره د سليم فطرت برابر له هر اړخيز مشرتابه معاف کړيده او پر دې مسؤليت يې يوازې هغه سړي مکلف کړيدي چې دا کار سرته رسولی شي.

د ښځې مياشتنۍ ناروغي، پر ماشوم باندې د حمل په وخت او يا هم د ماشوم د زيږيدلو پر مهال هغې ته کله اجازه ورکوي چې له دې ستونزمنو حالاتو سره دې د امت چارې سرته ورسوي.

ښځه په فطري لحاظ هغه صلابت او جدارت نه لري چې په هغې سره د غليم سره په جگړه کې بريا خپله او يا مجرمين او

[39] - صحيح البخاری، باب ما يکره من الحرص على الأمارة –ط – دار الشعب القاهره.

قاتلين وځپلای شي، او که له دې ټولو ستونزو سره بيا هم ښځه په دې کار وګمارله شي دا به هغې باندې د يو زيات بوج بارولو څخه پرته بله معنا ونه لري.

د نړۍ په تاريخ کې وګورئ څومره ښځې سوبمنې او د جګړې د ډګر اتلانې تېرې شويدي؟ او څومره ښځې اوس مهال د جګړې کومانده پر غاړه لرى؟ او څومره ښځې د پوځونو جنرالانې دي؟

بې له شکه چې يو شمير تاريخ جوړونکي ښځې شته چې ارزښتناکې اتلولۍ لري خودا شمير د سړيو د شمېر په نسبت په هيڅ ګڼلای شو.

ددې حقيقت په څرګندولو سره به مو د ښځينه ؤ سپکاوی نه وي کړی څکه مونږ باور لرو چې دا هغه ډګرونه دي چې ښځه ئې له مسؤليت څخه معاف ده.

هو! د باتورانو او سوبمنانو ترشا د غيرتي او پوهو ميندو لاسونه وي چې دوي ئې پر خپله مهربانه غيږه کې روزلي او پاللي وي.

که چيرته د داسې ميندو شتون نه وای نو هيڅکله به هم چانه بريا تر لاسه کړای وای او نه به د اتلولۍ پرآسمان ځليدلی وای.

د ښځو دنده او مسؤليت د همدغه شان باتورانو روزنه او پالنه ده نه دا چې د ښځې له فطرت څخه خلاف هغه پر يو بل کار مکلفه کړو.

په همدې توګه د کور مشري هم په ستره مشرۍ باندې قياس کيږي. اسلام په نظم او دسپلين باندی امر کوي هر چيرته چې دوه تنه هم وي بايد مشري شتون ولري نو د همدې لامله د کور لپاره هم يوه مشرتابه ته اړتيا ده د کور د مشرتابه لپاره دوه لارې دي يوه دا چې ښځه مشره وي او بله دا چې سړي، نو که ښځه مشره شي او مشرۍ ته د يو امتياز او منصب په سترګه وليدل شي دا به د سړی سره تيری نه وي.

او که مسؤليت او امانت وي نو دا به پر ښځه باندې د هغې د ظروفو په کتنه يو زيات بوج نه وي؟

له بل لورې ولې د ښځې او سړي تر منځ اړيکه تضاد وګڼل شی په داسې حال کې چې دا اړيکه د مودت، مهربانئ او محبت اړيکه ده.

همدغه راز که چيرته مشري يو امتياز وګڼل شي نو د سړي د زياتو مسؤليتونو (لکه نفقه، د دښمن سره مقابله، نور شاقه او سخت کارونه) په کتنه سړی ته دا امتياز په لږه بيه او قيمت نه دی ورکړل شوی او که د سړی د ټولو مکلفيتونو سره سره بيا هم دا برخه د ښځې وای نو ايا له سړي سره به تيری نه وای؟

دې ټولو ته په کتلو سره ويلای شو چې د ښځې او سړي دواړو لپاره همغه عدالت دی چې اسلام هر يو ته ټاکلی دی او همدغه د اسلام حدود د انسان د سليم فطرت له غوښتنې سره برابر دي اسلام ټول هغه مسؤليتونه چې په سياسی او ټولنيزه برخه کې ئې ځنې امتياز ګڼي مسؤليت بولي او ښځه ئې ورڅخه د هغې د فزيکي جوړښت او د نورو مسؤليتونو او تکليفونو په نظر کې نيولو سره معاف کړيده لکه: په ماشوم باندې د حمل خطرونه او سختي، د ماشوم زيږونې سختي، دشيدې ورکونې، روزنې او ماشومتوب کې د ماشوم د پالنې مسؤليت.

اسلام ښځه يوازی د مشرتابه په اړخ کې نه ده معاف کړې بلکې لکه څرنګه ئې چې د مشرتابه په هکله د هغې حالات او ظروف په نظر کې نيولي دي د همدغه ظروفو په کتنه سره ئې له ډيرو عبادتونو څخه هم معاف کړيده.

لکه د جماعت، جمعی، اختر او جنازې لمونځونه پرته له محرمه د حج سفر د ښځینه ځانګړو ناروغیو پر مهال له یوې مخې د روژې نه نیول (خو بیا وروسته ئې قضا راوړل) او داسی نور...

**2: په دینی برخه کې:**

ولی د سړي لپاره د ښځی امامت نه صحیح کیږي؟

ولې د ښځې شهادت له سړي سره برابر نه دی؟

ولې په ځینې مواردو کې د ښځې قضاء نه صحیح کیږي؟

مخکې مو هم یاد کړل چې اسلام قضاء شهادت او امامت ته د مسؤلیت او مکلفیت په نظر  ګوري نه د امتیاز، منصب او برخې په توګه.

ښځه د هغې د فزیکي جوړښت او همدغه راز د ماشومانو د روزنې، حمل او زیږونې رضاعت او حضانت په چارو مکلفه شویده چې ددې سره د قضاوت، شهادت او امامت چاری سرته رسول یو ستونزمن کار دی چې له امله ئې معاف شویده.

پر ښځه باندې له سره د جماعت لمونځ فرض نه دی او له دې عبادت څخه معاف شویده چې داد هغې لپاره یو امتیاز ګڼلای شو نه دا چې داد هغې په هکله سپکاوی دی.

همدغه راز شهادت هم مسؤلیت دی چې په ځینی حالاتو کې ورڅخه معاف ده خو په ځینو ځانګړو حالاتو کې ئې بیا په یوازی هم شهادت منل کیږي لکه په دینی او عبادتی چارو کې ئې شهادت د سړي غوندې دی.

د حدیثو روایت چې ګڼ شمیر احکامورباندې ثابتیږي له سړي سره ئې روایت توپیر نه لري بلکې کله چې په علم، حفظ او باور کې له سړي څخه اوچته وي روایت ئې هم ورڅخه اوچته ګڼل کیږي.

هو په ځینې مواردو کې د دوه ښځو شهادت د یو سړي برابر دی؟ او هغه د احتیاط لپاره ځکه چې هیره او نسیان ښځې ته له سړي څخه زیات واقع کیږي او تجربو ښودلې ده چې په عامه توګه د سړی حافظه له ښځې څخه اوچته ده.

وګورئ په نړۍ کې څومره ښځې مخترعینې تیرې شویدی او نړۍ ته ئې نوښتونه وړاندې کړیدي؟ که یو شمیر ښځې درته په نظر راشی خو د سړیو په پرتله به د ښځو شمیر ډیر کم وي.

د تاریخ په اوږدو کې او د نړۍ په هر ګوټ کې ستر ستر پوهان سړي تیر شویدي یوازې په مسلمانانو او اسلام کې نه بلکی په هر دین او مذهب کې سړي په حفظ او ضبط کې له ښځینه ؤ څخه وړاندې دي.

له دینې پوهې سربیره په نورو دنیوي علومو کې هم سړي مخکې دي نو څه کیږي چې په ځینی ځایونو کې دوه ښځې په شهادت کې د یو سړي په شهادت شمیرلای شي.

په شهادت باندې ډیر مهم احکام مرتبیږي د همدې پر اساس د هر سړي شهادت هم د احتیاط له مخې نه قبلیږي بلکې هغه سړي چې ځانګړې د عدالت شرطونه او صفات ولري بیائې شهادت منظوریږي.

د مسلمان لپاره خو همدومره بس ده چې داد الله جل جلا له حکم دی، او چې د الله پاک حکم دی نو همدغه حق او عدل دی او هغه چې په اسلام باندې باور او ایمان نه لري نو د پورته لیکنې په کتنه  که له انصاف څخه کار واخلي او د سلیم او روغ فطرت د لرلو په صورت کې خپل ګریوان کې سر ښکته کړي نو دې پایلې ته به ورسیږي چې په ټولو احکامو کې او همدغه راز د ښځې اړوند احکامو کې اسلامي شریعت عین حق او عدل دی.

**3: ښځې په ځینې برخو کې پر سړیو امتیاز لري:**

مونږ باور لرو چې اسلام د سلیم انساني فطرت برابر دین دی چې په لاندې مثال کې یې په ښه توګه سره څرګندولای شو.

ښځه د سړي په نسبت دا غوره ګڼې چې د ښکلا سره څرګنده شی او څومره چې ممکن وي هڅه کوي ځان سینګاروي ترڅو د ښکلا په ډګر کې ښه وځلیږي، دا فطرت په سړیو کې هم شته خو په ښځو کې زیات دی.

له بل لورې سړي پر سختو چارو ګمارل شویدي کله چې د چارو د سنبالولو پر وخت ورته ستړیا رسیدلی وي نو کور او ښځه د هغه لپاره د سکون او هوساینې غیږ ده، نو کله چې ورته راستون شي او میرمن په ښکلې بڼه کې وګوري وربانده خوشحاله او ستړیائې کمیږي.

وګوری له یو لورې ښځه هم پر ښکلا ویاړمنه ده او له بل لورې سړي هم وربانده خوښمن کیږي.

د همدې په نظر کې نیولو سره څومره چې د ښځې لپاره د ښکلا د وسایلو د استعمال اجازت دی په هغومره اندازه سړي ته نه دی ورکول شوی. ښځې ته د سروزرو د استعمال اجازت شته خو سړی ته د ځان سینګارولو په خاطر د سروزرو د استعمال اجازت نشته همدغه راز د وریښمو د استعمال اجازت د سړیو لپاره نشته خو د ښځو لپاره شته.

په حدیث شریف کې په دې معنی راغلی دي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د سروزرو او وریښمو په هکله وفرمایل چې دا دواړه زما د امت په نارینه و باندې حرام دی.[40]

نو ایا اوس د سړیو لپاره په کار دی چې هغوي نیوکه وکړي چې زمونږ لپاره ولې دا جائز نه دي؟

دا الله پاک دی چې تحلیل او تحریم د هغه صلاحیت دی او همغه د کبریا او حکم څښتن د خپلو بندګانو په چارو او تدبیر ښه پوهیږي او ټول حکمونه ئې د حکمت، عدل او مصلحت برابر دي.

که الله پاک پر چا مهرباني وکړي بل ته نه دي په کار چې له هغه سره حسد وکړي بلکې له الله پاک څخه دې فضل او مهربانۍ دعا کوي الله پاک مهربانه ذات دی او هیڅ څوک ئي له لورې څخه د عدل او مصلحت برابر محروم شوی نه دی.

الله پاک فرمایلي دي:

**﴿وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللَّهُ بِهِ بَعْضَكُمْ عَلَى بَعْضٍ لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبُوا وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا اكْتَسَبْنَ وَاسْأَلُوا اللَّهَ مِنْ فَضْلِهِ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾**[41]

ژباړه: الله پاک چې په تاسو کې یو ته پر بل باندې کوم فضیلت ورکړیدی د هغې په هکله (ناوړه) هیلې مه کوئ، سړیو چې په عمل څه ګټلي هغه د هغوي برخه ده او ښځو چې په خپل زیار څه ګټلی هغه د هغوي برخه ده، او د الله متعال څخه (په مستقله توګه) د هغه د مهربانۍ غوښتنه کوئ پرته له شکه الله پاک په هرڅه (ښه) پوه دی.

الله متعال په فطري توګه ځنی صفات په نارینه ؤ کې غښتلي پیدا کړي او ځنې نورئي په ښځینه ؤ کې او د همغې صفاتو او فطري اړتیاؤ برابرئې شرعي حدود او احکام هم مقرر کړیدي.

چاته ئې د جمال په برخه کې ستره برخه ورکړې او چاته ئې د جلال، چاکې ئې د سربښندنې صفت غښتلی کړی او په چا

---

[40] - دا مطلب په سنن ابی داود (۸۹/۴) سنن ابن ماجه (۵۹۴/۵) مسند احمد (۹٦٥٦/۱) او د حدیثو په نورو کتابونو کې راغلی دی او شیخ البانی رحمه الله ورته صحیح ویلی دی.

[41] - سوره النساء ایه ۳۲.

کې يېځ د ماشوم د روزنې، څوک ئې د شجاعت په صفت ځلولي او څوک ئې د رحمت او شفقت، او هیڅوک ئې له لورې بی برخې نه دی پاتې کړي شوی.

هغه ستر او مهربانه الله دی او د خپلو مخلوقاتو او بندهګانو په تدبیر او محصلتونو له هر چا ښه پوهیږي. د هر څه مالک، او خالق، پالونکی او روزونکی (مربي) دی، امر او نهي یوازې له هغه سره ښايي او أحکم الحاکمین دی.

﴿أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾[42]

ژباړه: ای دوي د جاهلیت حکم (او قانون) غواړي، او څوک دی چې له الله متعال څخه د حکم (او قانون) په اعتبار د هغه قوم په نزد چې (پر یو الله) باور لري غوره وي؟ (هیڅوک هم د الله متعال څخه د حکم او قانون پر اعتبار غوره نه دی).

**پایله**

د ښځې په هکله د یوی لندې او ځغلنده کتنې وروسته لاندې پایلې ته رسیږو چې:

1. د اسلام څخه پخوا ښځه په هر اړخیزه توګه محرومه او محکومه وه او به بیلابیلو جهالتونو کې او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د سړي په پرتله په ډېر لویدلی حالت کې وه تردې چې په ځینې ځایونو او ملتونو کې ئې له یوه څاروي څخه هم ځای ښکته وه، هیڅ منزلت ئې نه درلوده مقهوره او مغلوبه وه.
2. کله چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په بعثت سره د اسلام لمر راوخت نو د ښځې د خوشحالۍ او سوکالۍ بخت هم راویښ شو، اسلام د ښځې په هکله تیري کوونکې دودونه او رسمونه ختم کړل او د انسانیت په اعلی مقام کې ئې ورته ځای ورکړل او د ژوندۍ په خاورو کولو پر ځای لور شوه او خور شوه چې په روزنه او پالنه باندې ئې جنت مقرر شو، او مور شوه چې له پلار څخه ئې هم حق څو چنده شو او اوس د ژوند خوږه میرمن شوه چې ورسره په غوره سلوک باندې د غوره والی اوچت معیار ته رسیږي.
3. په اسلام کې ښځه په هیڅ برخه کې محرومه نه ده او د دین او دنیا به هره برخه کې ورته د عدل او انصاف برابر حق ورکړل شویدی.
4. د ځینو خلکو نیوکې پر اسلام باندې د ښځې په اړه له یوې مخې بې ځایه او له انصاف څخه لرې دي ځکه هغوي پرته له دې چې اسلام د یوه بشپړ نظام په توګه تر څیړنی لاندې ونیسي په جزئي ډول ځینې مسائلو ته ګوته نیسی خو چې په ژوره توګه همغه مسائل وڅیړل شی هر یو با انصافه او د شریف ضمیر څښتن اړ کیږي چې هغه ومنی او پر حقانیت باندې یې اعتراف وکړي.
5. په اسلام کې ښځه د یوې وسیلې په توګه نه استعمالیږی لکه په نورو مدنیتونو کې چې ورڅخه د یوې وسیلی په توګه کار اخیستل کیږي بلکې ښځه په اسلام کې د یو عزتمن انسان په توګه ځای لری.
6. د سړي او ښځې تر مینځ اړیکه په اسلام کې تکاملي او د محبت، مهربانۍ او هر اړخیزه مرستې پر بنسټ ده چې یو پر بل باندې بشپړ او انساني ټولنه را مینځ ته کوي، نه دا چې ترمینځ یې اړیکه د تضاد، دښمنۍ او کشمکش پر پنسټ وي.

[42] - سوره المائده آیه ۵۰.

7. د تیرو مبحثونو په رڼا کې ثابته شوه چې ښځې ته اسلام د ژوند په بیلا بیلو دینی او دنیوی ډګرونو کې د کار اجازت ورکړیدی لکه تجارت، طبابت، زراعت، صنعت د ماشومانو تربیت او حضانت، دعوت، علم، فتوی، استفتاء او داسې نور.
8. لکه سړي چې د احکامو پر پلي کولو مسؤل دی ښځې هم د ژوند په هر اړخ کې باید د الله متعال حکمونه پلي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ارشادات اولارښوونې په بشپړه توګه عملي کړي.
9. د عفت د خوندي ساتلو لپاره لکه څرنګه چې سړیو ته لازمه ده چې د نامحرمو ښځو په وړاندې خپلې سترګې له ضرورت پرته مخامخ نه کړي همدغه راز ښځو ته هم په کار دي چې د اسلامي شریعت په چوکاټ کې د ستر او پردی احکام رعایت کړي.
10. په ځینې احکامو کې د ښځو تخصیص او یا هم له ځینې احکامو څخه د ښځو معاف کول د هغوي د طبعي جوړښت او فطري غوښتنو په کتنه سره سرته رسیدلی دی نه دا چې مغضوبې، محرومې او بې برخې شویدي.
11. ښځه چې په بیلابیلو مدنیتونو، دینونو او ملتونو کې مقهوره، خواره او د تیری لاندې وه په اسلام سره سرلوړې، نیکمرغه، سوکاله او د هوسا ژوند څښتنه او د انسانی کرامت اوچتو پوړیو ته ورسیده.